# د تغییر کاروان پریکړه لیک

## د ۱۳۹۱ کال دلړم ۲۹ مه (19 نوامبر 2012)

ځوک چې د مشرانو درناوی او په کوچنیانو شفقت نه کوي زما له امت څخه ندی (حدیث شریف)

ښوونو او روزنه د ټولوحق دی، راځې د ټولنې، هیواد او ولس د هوساینې لپاره خپل ځوانان د علم په ګاڼه سینګار کړو.

موږ د تغییر کاروان غړي په دې اند یو چې،ځوانان په هر وخت او هرځای کې دټولنو دجوړېدو او پرمختګونو اصلي لامل دي، ځکه دوی دلوړو همتونو در لودونکي او د اغېزمنو ګامونود اخیستلو وړتیا لري، دوی هرډول سختي،ربړونه او تکلیفونه زغملای شي،په ټولنه کې ترهرڅا د دوی ډېر فعاله او دکار کولو لېوالتیااو مینه ور سره موجوده وي.

که روانو حالاتو ته وکتل شي نو د هیواد راتلونکی نسل (کوچنیان او ځوانان) مو له ډول،ډول ستونزو سره لاس او ګریوان دي چې دبېلګې په ډول ورڅخه په لاندې ډول یادوونه کوو:

- ✓ ډیری تنکي ځوانان مو د ژوندانه د مجبوریتونو له امله دولت او ددولت له وسله والو مخالفینو سره د جګړې پر لیکو کې په جګړه بوخت دي، او په دې ډول مو د راتلونکې دغه ستره پانګه له لاسه وځي.
- ✓ په هیواد کې د ناسمو دودونو د ځواکمنۍ او د قوانینو د کمزورۍ له امله مو ډېر کوچنیان او ځوانان له خپلو حقه حقونو څخه بې برخې او سترو ننګونو سره لاس او ګریوان دي.
- ✓ د هیواد په بیلابیلو برخو کې د ځینو خاصو کړیو او خلکو له خوا مو له کوچنیانو او تنکیوځوانانو څخه ناوړه جنسي ګټه اخیستله کیږي، چې دوی او دهیواد نور کوچنیان او ځوانان یې له ستر رواني فشار سره مخ کړي دي.
- ✓ د دولت د نه پاملرنې له امله مو لاهم په زرګونو کوچنیان په ډیر لږ عمر کې په درندو کارونو باندې بوخت، او دښوونې له ستر نعمت څخه بې برخې دي.
- ✓ د کورنیو او هم ځینو ټولنیزو موضوعاتو له امله مو لاهم ځوانان په ویره او ترهه کې ژوندکوې، چې دغه چار ددوی د ذهني ودې او پرمختګ مخنیوی کوي.
- ✓ لاهم په ټولنه کې د کوچنیانو او ځوانانو په حقونو باندې د کورنیو او هم مسؤلو دولتي چارواکو لخوا سترګې پټیږي، او څنګه چې ښایي نه کورنۍ او نه هم دولتي اړونده ارګانونه دغې موضوع ته پاملرنه کوي.
- ✓ په هیواد کې د بیلابیلو پرمختګونو ترڅنګ ډیری کوچنیان او خوانان هم په دې توانیدلي دي چې عصري ټیکنالوجۍ ته لاسرسی ولري، خو په خواشینۍ سره چې دکارونې لارې چارې یې له یولړ ستونزې لري او که مسؤل چارواکې دغې موضوع ته جدي پاملرنه ونه کړي نو دهیواد دغه ستره پانګه (کوچنیان او ځوانان) به مو په داسې ناروغیو اخته شي چې په راتلونکې کې درملنه به یې ډیره ستونزمنه او پربها وي.

دپورته ستونزو ترڅنګه ډيري نوري ستونزي هم شته چې دکوچنيانو او ځوانانو د پرمختګ مخه يې بند ه کړې ده، ددې لپاره چې په هيواد کې دنن او سبا پانګه ( کوچنيان او ځوانان) له خپلو حقه حقونو څخه ګټه واخيستلای ش ي، نو موږ د تغييرکاروان غړي دولت، مدني ټولنې او نړيوالې ټولنې ته خپل وړانديزونه په لاندې ډول شريکوو:

- ✓ دولت بايد دهيواد نافذه قوانين او هغه نړيوال تړونونه چې افغانستان يې پلي کولو ته ژمن دی، هغه شان چې ښايي دکوچنيانو او ځوانانو دخير ښيګڼې لپاره پرته له هرډول مصلحت څخه پلي کړي.
- ✓ دولت بايد د ملي اردو، ملي پوليسو او نورور امنيتي ارګانونو په ليکو کې په ريښتينې ښه، تر اتلس کلنۍ د ټيټ عمر لرونکي ځوانان جذب نکړي.
- ✓ دولت ، مدني ټولنه ، کورنۍ او علماي کرام بايد په ريښتينې ښه د کوچنيانو او ځوانانو د حقونو لپاره کار وکړي، ترڅو ددوی پر وړاندې شته دوديزي ستونزي او خنډونه د ناوړه جنسي ګټې اخيستنې او تاوتريخوالي په شمول له منځه يوسي او کوچنيانو او ځونانو ته آرمه فضا رامنځته کړي.
- ✓ مقننه قوه بايد د کوچنيانو او ځوانانو په ګټه په ځينو مشخصو قوانينو کې وړ تعديل راولي ترڅو ددوی د حقونو خونديتوب ته ريښتيني ښه ورکړي، او اجرايه قوه بايد په جدي توګه هغه مجرمين چې د کوچنيانو او ځوانانو حقونو ترپښولاندې کوي په جدي توګه تر عدلي تعقيب لاندې ونيسي او بلآخره يې د قانون منګولو ته وسپاري.
- ✓ دولت، مدني ټولنه او نړيواله ټولنه بايد په مشترک ډول د کارګرو کوچنيانو ستونزو ته جدي پاملرنه وکړي ، او بلآخره هغه لازمي اسانتياوي ورته برابري کړي کومې چې ددوی حق جوړيږي.
- ✓ دولت او اړونده مسؤلې ادارې بايد د عصري ټينکالوجۍ د سمې کارونې لپاره لازم اقدامات تر سره کړي، ترڅو د هيواد ځوان نسل ورڅخه د خپل ځان،ټولنې او هيواد د پرمختګ لپاره کارواخلي او له منفي کارونې څخه يې مخنيوی وشي.
- ✓ هر افغان وګړی د اسلامي ارشاداتو پر اساس دنده لري تر څو دخپلو کوچنيانو او ځوانانو لاس نيوی وکړي او دوی يوې روښانې راتلونکې وخوځوي.

د لازياتو معلوماتو لپاره: cpd.afg@gmail.com